# کاشکي لمر زموږ کليوال وای

## (د ازادو او سپينو شعرونو ټولګه)

Download from:aghalibrary.com



فدا محمد (نظري)

# كاشكې لمر زموږ كليوال واى

[د ازادو او سپينو شعرونو ټولگه]

فدا محمد ((نظري))

لندن
۱۳۹۲
2013

د کتاب ځانګړني:

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | **کاشکې لمر زموږ کلیوال وای** |
| ویناوال: | فدا محمد نظري |
| خپرندوی: | د افغان لیکوالو فرهنګي ټولنه - لندن |
| برېښنالیک: | fedajan@ hotmail.co.uk |
| ډیزاین چارې: | عبدالهادي اثر ۰۷۷۲۱۲۰۷۰۳ |
| چاپ کال: | ۱۳۹۲ل / 2013 م |
| چاپ شمېر: | ۱۰۰۰ |
| چاپوار: | لومړی |
| چاپځای: | مومند خپرندويې ټولنې تخنیکي څانګه |

**د چاپ ټولې رښتې له لیکوال سره خوندي دي.**

**د ترلاسه کولو پتې:**

عبدالمجید مومند کتاب پلورنځی، مخابراتو څلور لارې - جلال آباد. اړیکې:
۰۷۰۰۲۲۲۱۲۱ / ۰۷۷۷۲۲۲۱۲۱

خوست: غرغښت کتاب پلورنځی او سباوون کتاب پلورنځی.

ګردېز: علمي کتاب پلورنځی، حمید ګردېزي مارکېټ.

پکتیکا (شرنه): مجاهد کتاب پلورنځی / کابل: اصلاح افکار کتاب پلورنځی، خیبر کتاب پلورنځی او مستقبل کتاب پلورنځی.

هلمند: سید جمال الدین کتاب پلورنځی. / پکتیا: روحاني بابا کتاب پلورنځی.



بسم الله الرحمن الرحیم

# ټرون

((د ګران هېواد افغانستان د فرهنګي پلازمېنې (ستر ننګرهار) شاعرانو، کیسه لیکونکو او کره کتونکو ته، چې د پخوا په څېر یې په روانه لسیزه کې هم د پښتو ادب بډایۍ ته خورا ډېر څه ورکړي دي.
په ټېره له مخکښو استادانو:
مجاور احمد ((زیار))، محمد اسماعیل ((یون))، محمد آصف ((صمیم))، لال پاچا ((ازمون)) او زرین ((انځور)) نه نړۍ، نړۍ مننه.))

څه کېدل / ۱۱۰
ډبره له ډبرې وهل / ۱۱۱
ډارن ملګرى / ۱۱۲
احسن تقويم / ۱۱۳

**ژباړل شوي شعرونه**

ايا ته پخپله ورو ورو ځان مرګ ... / ۱۱۶
خداى دې مين کړه / ۱۱۸
د باېرن وصيت / ۱۲۱
راز / ۱۲۲
سواد / ۱۲۳



# لیکلړ

ځو لنډې خبرې / ۱
پرون / ۱
شاعران څرنګه ((غزل)) لیکي؟ / ۲
((تګ)) او ((پرمختګ)) / ۳
آخر انسان یم / ۴
آسمان ته ختل / ۵
امنیت / ۶
((انقلاب ادامه دارد)) / ۷
آه خدایه کاشکې غر وای / ۹
آیا نړۍ په ورتګ ارزي؟ / ۱۱
بېرحمه جګړه / ۱۲
رڼا او تیاره / ۱۳
تر یوه آسمان لاندې / ۱۴
ته زما ژوند یې / ۱۵
خدای او انسان / ۱۶
خندا او ژړا / ۱۸
خوله دې خوږه ده / ۱۹
د ستورو هیله / ۲۰
د پسرلي نسیم / ۲۱
خوب او ویښتیا / ۲۲
د دمکراسۍ ونه / ۲۴
د ژوند رزق / ۲۶
د شونډو نخا / ۲۷

د لوبې قانون / ۲۹
د ((مچکو)) ارزاني / ۳۰
د مچو انقلاب / ۳۱
د مني برګ / ۳۳
د مني کړنلاره / ۳۴
د مړو نڅا / ۳۵
د نهنګ مرګ / ۳۶
((نهنګانو ځان وژنه کړې ده)) / ۳۶
د نوي ژوند په لور / ۳۷
د ښه والي فکر / ۳۸
د ګل ګناه / ۳۹
رایه به چاته ورکړو؟ / ۴۰
زما اوښکه / ۴۲
څوک ده زما لیلا؟ / ۴۴
زما دې ژړا خوښه ده / ۴۵
زما کندهاره! / ۴۶
زما کسه / ۴۷
زما مینه او ستا ښکلا / ۴۸
زمونږ ولسمشر / ۴۹
زه د سیند له کبانو پوښتم؟ / ۵۰
زه هغه ګل یم / ۵۱
زه هیڅ داسې دلیل نه وینم / ۵۲
زه څوک یم؟ / ۵۳
ډاډه نه یم / ۵۴
زه یې لیکم ته یې وایه / ۵۵

زوړ سوم خو ژوندی یم / ۵۶
زړه مې د مینې سمبول / ۵۸
زړه د امپراتورۍ پلازمېنه / ۵۹
ژوند ! ژوند ! ژوند ! / ۶۰
ستا په اننګو کې / ۶۱
ستا غېږې ته منډه / ۶۲
ستا مینه / ۶۳
ستا ښکلا / ۶۴
ستومانه لمر / ۶۵
سترې مه شې ! مننه ! / ۶۶
سر پنا / ۶۷
سر خپل ګرېوان ته کښته کول / ۶۸
سرګردانه زرې / ۶۹
سهار وختي / ۷۰
د سولې لپاره جګړه / ۷۱
شیطان رانه غواړي / ۷۲
غواړم د باران په اندازه وژاړم / ۷۴
کاشکې / ۷۵
کاشکې تل راسره مل وای ! / ۷۶
کاشکې نړۍ په مینه ودانه کړو / ۷۷
کندهاره ! / ۷۸
که ادې مړه سوه / ۸۰
که زه قلم وای / ۸۱
زما خوب / ۸۲
که شیطان خبر وای / ۸۳




که لمر رانه سي / ۸۴
که لمر زمونږ کلیوال شي ! / ۸۵
کږه نړۍ / ۸۷
لاس راکړه ! پښتو وکړه ! / ۸۸
((ښکلا)) او ((ښکلول)) / ۸۹
له دنیا نه لاس اخیستل / ۹۰
له لمر نه مننه / ۹۱
مات زړه / ۹۲
مه ژاړه ! وخانده ! / ۹۳
ابدي مینه / ۹۴
مینه په تلو راتلو ډېرېږي / ۹۵
مینه څه ده؟ / ۹۶
نه پوهېږم ولې؟ / ۹۷
نه، امکان نه لري / ۹۸
نېکي / ۹۹
هرڅه بدل شول / ۱۰۰
هلو ! / ۱۰۱
والشمس وضحا ها / ۱۰۲
کله ډېر ناوخته شي / ۱۰۳
وطن / ۱۰۴
وطن جنت دی / ۱۰۵
ویني زېښښونکی / ۱۰۶
تکړه ځوان / ۱۰۷
((جزغاله)) / ۱۰۸
څاڅکی / ۱۰۹

(( شعر ښه یا بد کېدای سي، خو نوی او زوړ نه لري ))

(ت. الیوت )

# څو لنډې خبرې

((کاشکې لمر زموږ کلیوال وای )) د سلو داسې لنډو شعرونو ټولګه ده، چې د اوسنۍ نړۍ په ادبي ژبه ((سپین )) یا ((آزاد )) شعر بلل کېږي.
د دې ټولګې په شعرونو کې څو ټکي د پاملرنې وړ دي:
- د غزل بر عکس هر شعر د داستاني طرحې په څېر ((یکې یوه )) آساسي ((موضوع )) یا ((مسله لري )).
- د دودیزې پښتو او دري شاعرۍ په څېر د شاهد ، جام، ساقي، شراب، وصال، هجران، میخانې، زاهد ، محتسب شعري او ادبي کلمې چې زموږ سترګو او غوږونو عادت ورسره نیولی دی، نه وینو.
- تر هغه ځایه چې زما مغز او قلم توانېدلی دې، په ساده تو ګه مې لیکلي دي.

زما په اند که څوک پښتون او یا یې پښتو زده وي، لوستونکی وي، تر مخه یې یوازې څو شعرونه لوستې وي د دې ټولګې د هر شعر په مانا او په هغه کې د شاعر په موخه بشپړ پوهېدای شي.
د ((المعنی فی البطن شاعر)) د پخواني عربي اصل له مخې مې د خپل شعر تفسیر نه خوښېږي؛ خو د هر شاعر، شعر پېژندونکی، کره کتونکی او حتی ساده لوستونکی نیوکو او پوښتنو ته به په سر او سترګو جواب ور کوم.
هم داسې ستاسو ټولو سمونو او وړاندیزونو ته په مینه مینه؛ جګې جګې!!!
د ژبې له مخې د برې پښتونخوا د ادب په تاریخ کې، د ((سپین)) یا ((آزاد)) شعر لومړنۍ نمونه، د استاد پژواک ((کلیمه داره روپۍ)) حماسي ډرامه ده؛ چې نیمه پېړۍ پخوا پښتو ټولنې خپره کړې ده.
تر هغه وروسته هم ټولو پښتنو او پښتو شاعرانو د غزل د بڼ د ستر مالیار استاد ((پسرلی)) نه نیولی، تر ځوان شاعر فاروق ((فردا)) پورې هر یوه په خپل وار و دغه ډول شعر ته ډېر ډېر څه ډالۍ کړي دي.
ځوانیمرګ ((ننګیال)) خو یې پر مخ ګرده پور ور پرې کړی دی.
مګر، د کل په توګه ((سپین)) یا ((آزاد)) شعر؛ تر ننۍ ورځې د غزلبول شاعرانو د رنګینو ((غزل)) او ((تغزل)) تر اغېزې لاندې یوازې په ګذاره ژوند کوي. زما د نیمګړو معلوماتو له مخې اوسه د دغه ډول شعر ځانګړې ټولګه نه ده خپره سوې.
د شاعر د ((سپین)) یا ((آزاد)) شعر بشپړه مجموعه ((دیوان)) نه سو بللای. ځکه ((دیوان)) (په عمده توګه) یوازې د یوه کلاسیک شاعر د ګردو غزلو مجموعه ده. باید له اوس نه د دغه ډول په اصطلاح ((دیوان)) لپاره د نامه سوچ هم وسي.

د ګران افضل ((ټکور)) پر ځای مشوره مې ومنل؛ شعرونه به د سلو سلو دانو ورږو ټولګو په توګه خپروم. تر څو ، هم یې د لوستلو اوسله وي او هم یې ورو ورو غوږونه او سترګې د ویلو سره آشنا سي.

دویمه ټولګه ((ښې نجونې په جنت کې دي، ښکلې نجونې په کابل کې)) چاپ ته تیاره ده. ژر به انشا لا دوستانو ته وړاندې سي.

دا نا څیزه ټولګه د هېواد په دننه او بهر کې ټولو لیکوالو ، شاعرانو او کره کتونکو ته وړیا ده.

ستاسو کوټونکو خو ، جوړونکو نظریو او کره کتونو ته سترګې په لار.

فدا محمد نظري



# پرون

پرون،
دلته،
په دې دښته کې،
د کمر سنګړو،
د اوبو له توپان سره ږغرې و وهلې،
باران - د خدای رحمت - لږ وورو،
او توپان شاته و تمبول شو.

•

خو د اوبو - نیمه خوا - جریان،
به له خپلو ماتو څپو،
شکېدلو حلقو،
او بېځانه قطرو سره،
یو ځل بیا راشي،
دا ځل به- انشاءالله - اوبه د شیلې له نسه تیرېږي.

# شاعران څرنګه ((غزل)) لیکي؟

کله چې په تیاره شپه کې،
ډزې،
راکټونه،
بمان،
د کلي آسمان سور اور وګرزوي،
کله چې د انسانانو له غوښونه،
د کباب بوی پورته کیږي،
کله چې د مړو د لاښونو ارواح،
د ټول وطن فضا نیولې وي،
نه پوهیږم،
ماشومانو ته څرنګه خوب ورځي؟
نه پوهیږم،
شاعران څرنګه ((غزل)) لیکي؟

# ((تگ)) او ((پرمختگ))

که،
زه، ته،
موږ، تاسو،
وګورو!
د ((پرمختګ)) لپاره،
پر((تګ)) ایمان نسته؟
زموږ لاسونه ستره معجزه ده،
خو،
د غیب لاس زما لاس نه دی.

# آخر انسان يم

ښايي هيڅکله،
و نه کولای شم، د نړۍ ټول ښکلي ملاقات کړم،
ښايي هيڅکله،
د ((هندوکش)) د غرونو جګو څوکو ته و نه رسېږم،
ښايي هيڅ کله ونه کړای شم،
د ((پوشکين)) غوندې ښه شعر وليکم،
خو آخر کاڼی او غر هم نه يم،
چې،
د سلطان د قصر يوه خښته سم،
او نه لرګی او سوټی يم،
چې،
چوپان په ما خپلې رمې و پيايي
آخر انسان يم،
افغان يم

# آسمان ته ختل

وایي:
ملایکې آسمان ته هم خېژي،
خو؛
زینه په زینه،
آیا د پامیر د پرې جگې څوکې فتحه کېدای سي؟
بلې!
گام په گام

# امنیت

وایي:
زما د کار کوټه،
یوه تیاره خونه ده،
چګ دېوالونه او خړ چت لري،
وریې وسپنیز دی،
خو کړکۍ نه لري،
دلته نه تازه هوا سته، نه د غچیو آواز،
نه د سپوږمۍ ځلا راولېږي،
نه د لمر تودوخې،
•
دته یوازې څو موږکان له خپلو سوریو وزي راوزي،
مګر:
دلته امنیت سته،
امنیت!!!

# ((انقلاب ادامه دارد))

د پر کلونه وړاندې،
یوه مامره چا،
په غوږ کې راته و ویل:
- ((انقلاب ادامه دارد))
- څرنګه؟
- ((انقلاب یانی د ټولنی د ګرده بنسټ نړول،
او پر ځای یې د یوی نوی عادلانه نظام جوړول))
•
اوس کلونه، کلونه راهیسې، جګړه، بمان او راکټونه ((ادامه دارد))
پر ((پل چرخي)) ((بګرام)) هم زیات سوی دی.
دستي چې هغه ښاغلی په دې نړۍ کې تشریف نه لري،

غواړم یوه شپه ((استخاره)) وکړم،
څو هغه خدای بخښلی یوازې،
راته و وایي:
د دې انقلاب ((ادامه)) به تر څه وخت وي؟
اوه ! خدایه هر څه ژر ...

# آه! خدایه
# کاشکې غر وای

زه د غرونو ،
تیګو ،
سنګړو ،
درو ،
او شیلو ،
زیات مننداوی یم ،
ځکه ،
دوی هرڅه په ساده ګۍ راته وایي ،
مهرباني په کښې نسته ،
خو ، دوه مخی هم نه دی ،
عطرونه او ګلونه يې خوښیږي ،
خو ، د تودوخې او ساړو نه ، نه ډاریږي ،
د قدمونو تحمل لري ،

خو ، د چا پښو ته نه لوېږي،
درانه دي،
خو سیانه نه دي،
مور به ای زېږولې،
او پلار سرلوړی ستر کړی دی،

•

پر غرونو او رودونو سلام،
پر ګلونو او عطرونو سلام
اوه ! خدایه،
کاشکې غر وای !



# آیا نړۍ په ورتګ ارزي؟

د هګۍ په دننه کې،
چرګوړی،
تل سوچ کوي،
((آیا نړۍ په ورتګ ارزي؟))

# بېرحمه جګړه

خلک کورونه جوړوي،
له کورونو کلي جوړېږي،
کلی هم له ښارونو سره یو ځای،
په ګډه ((هېواد)) شي،
•
نه پوهېږم،
ولې،
بېرحمه جګړه،
خلک،
کورونه،
کلي،
ښارونه
او ((هېواد)) ورانوي؟
لکه چې نور د ((خلکو)) زور د خدای زور نه دی!!

# رڼا او تیاره

ما ډېر څه د ورځې د لمر په روښانه رڼا کې ورک کړي دي،
خو اوس یې د شپې او د ماښام په توره تیاره کې لټوم.
نو ځکه،
سره له دې چې هره شپه د خوب لښکر ماتوم،
هیڅ لاس ته نه راځي.
ما د اولنیو،
دا خبره هېره کړې وه:
هیڅ هوښیار هغه سکه،
چې د ورځې یې ورکه کړې وي د شپې نه لټوي.

# تر یوه آسمان لاندې

زما،
رنګارنګ مېوې:
منه،
بهې،
زردالو،
ناک،
انار،
انګور،
حتی شاتوت،
ټول یو ډول خوښېږي،
ځکه دوی ټوله،
خواږه دي،
تر یوه آسمان لاندې،
د یوه بڼ،
په یوه مځکه کې،
را شنې او پخې سوي دي.

# ته زما ژوند یې

له سر نه،
تر پښو پورې،
له زړه نه،
تر مغزو پورې،
زما د خیالونو او هوسونو په هره لایه کې،
زما د رګ، وینې او پوست په هره زره کې،
ستا مینه او ښکلا،
ورو رو چکرې وی،
•
ته زما ژوند یې،
او زه ستا له پاره،
سا باسم.

# خدای او انسان

پوښتنه:
آیا د مرګ او ژوند ترمنځ جګړه،
د تلپاتې والي لپاره تلاښ نه دی؟
جواب:
بلې ګرانه! خو،
دغه یوه ساده عاشقانه ټوکه نه ده،
د دې کار له پاره باید روح ته پناه یو وړه شي:
مینه د دغه تلپاتیوالي او پایښت لپاره ډېره وړ زمینه ده.

مینه هغه ((جزیره)) ده چې هلته انسان او خدای نیغ په نیغ یو او بل سرهویني،
د محمد معراج، د عیسی کوه طور، د حاجیانو میقات، د لیلا او مجنون د ملاقات دښت، د فرهاد او مجنون بیستون،
ټولې د مینې ((جزیرې)) دي.

•

هم دلته دی چې انسان ځان په خدای کې ګوري،
صوفیان هغه ته وحدت الوجود وایي.



# خندا او ژړا

خندا د ژوند نیمایي ده،
او ژړا د هغه بد رنګه برخه،
خو،
د دوی ترمنځ مې پوله و نه لیدل.

•

آیا کله مو د خوښۍ ژړا هم لیدلې ده؟
هغه بل کیفیت دی،
مګر،
هله چې خندا او ژړا سره یو ځای سي،
قیامت وي، قیامت،
بلې!
داسې ژړا یوازې دوه کسه تخنوي:
مین
او
لېوني.

# خوله دې خوږه ده

ژوند مې تریخ،
اوښکې تروې دي،
خندا دې شېرینه،
شونډې خوږې دي،

•

غواړم:
خوله پر خوله در کښېږدم،
او ووایم:
((تعه)) ! ډېره خوږه ده.

# د ستورو هیله

د شپې په ژورو تیارو کې،
د بریښنا،
یوه روښانه خندا،
- که څه هم یوازې یوه لحظه وه -
په تېره چې،
د تالندې له غړومبې سره یو ځای شوه،
د یوه نوې بدلون لپاره،
د آسمان د میلیونونو ستورو،
د بنستېزو هیلو،
نښه وه.

# د پسرلي نسیم

د پسرلي نسیم،
ډېر زیرک دی،
خورا کیندلی،
او زښت مغرور دی،
د ده،
ژړ او وچ برګونه،
سرې ورځې،
د ژمي ماښامونه،
هیڅ نه خوښېږي،
•
پسرلی ستا په خندا مین دی،
ستا خندا ده،
چې پسرلی راولي،
پسرلي ته و خانده!

# خوب او ویښتیا

کله چې،
لا ځوان وم او ځواني وه،
د کور او نږدې کلي ترمنځ،
په یوه مازدیګرنی تګ راتګ کې،
یوه پېغله کوچۍ،
لکه د حورو سرداره،
لکه واوره سپینه،
لکه عسل خوږه،
لکه اوښکه رڼه،
لکه زړه مهربانه،
له ځوانۍ نه، له مستۍ نه:
رپېدل، رپږدېدل،

•

راغله،
راته ویې کتل،
سکوت یې مات کړ:

(( د میني اور مي سینه سوزي ! ))
- کومه مینه؟
له چا سره مینه؟
کوم زړه؟
دا مهربانه،
دا دومره نازک،
دا سپي ژړ،
ولې څه وسول؟
بیله هیڅ جوابه یې،
منډه کړل، ولاړه، ورکه سول.

•

دغه شپه،
بلې ! همدغه شپه،
په خوب کې راغله،
د خپل ژوند (( کیسه )) یې را ته وکړه،
او ماهم یوازې یوه (( غزل )) ورته و ویل.
نور نو له هغو کلونو را پدې خوا،
د هغې زړه وړونکی آواز،
او روح بخښونکې ښکلا،
د خوب او ویښتیا تر منځ؛
نیمژواندہ پرې ایښی یم.

# د دمکراسۍ ونه

تراوسه:
هر چېرته،
هر ملت،
هر قوم،
د دمکراسۍ سورووره ونه،
په وینو روزلې ده،
وایي:
هر چا چې دې ونې ته،
له پیله،
د وینو پر ځای،
یوازې اوبه ورکړي دي،
هغه پېزی او وچه سوې ده،
•
که دغه ونه وچه سي،

نړۍ به په عدالت کې ژوند و نه کړي،
ډېر بختور ملتونه،
ډموکراسي لري،
راسئ !
ډېر بختور ملت سو !



# د ژوندو رزق

ویل:
د کلونو راهیسې مو د زړه له کومې نه دي خندلي،
ځکه:
د کلونو راهیسې د زړه له کومې ژوندي نه یو.
نو څنګه:
آیا د کلونو را هیسې د زړه له کومې مړه یو؟
بلې!
یوازې ((د ژوندو رزق خورو.))

# د شوندو نڅا

د (( ډبرو زمانه )) نوره نسته،
د (( مسو )) دوره ختمه ده،
د (( اوسپنې )) عصر هم تېر شوی دی،
خو اوس ګورو،
بیا:
زړونه ډبره سوي دي،
حوصلې ډبرې سوي دي،
ایمانونه ډبره سوي دي،
او حتی:
مینې ډبره سوي دي،
وایي:
د تودو غېږو یو له بله جار وتنه او تودو خه هغه
ژرنده ده چې د حسد او کینې تورې تیګې ماتوي،
•

ګوندې وي چې:
زما د اننګو پر پوست،
ستا د شونډو نڅا،
ستا د سپینې سینې پر مرمر،
زما د زیږو لاسونو رپا،
یوه داسې ژرنده سي،



# د لوبې قانون

که و ډارېدې،
که بې زړه شوې،
که دې جرءت له لاسه ورکړ،
که دې شک ته لاره وموندل،
حتماً یې بایلې !
دا د لوبې قانون دی.

# د ((مچکو)) ارزاني

د نړۍ د پای په اورېدلو ،
د ښکلا په بازار کې ،
ښکلو (( مچې )) ارزانه کړلې.
(( مچه )) هم لکه بل هر مال ؛
که ډېره وساتل سي خرابېږي.

•

(( مچکه )) مه خرابوه !
او خوله رانزدې کړه !

# د مچو انقلاب

د ۲۰۱۳ د مۍ میاشتې په وروستي اونیزه کې د ترکیې دولت؛ د عامو خلکو په مخ کې د نارینه وو او ښځو تر منځ یو د بل پر خوله ( په اروپایي طرز ) مچولو بندیز ولګاوه او یوه سپکه جریمه یې هم پر کښېښودل.
څو ورځې وروسته، د هغه هېواد په لکونو خلکو، د دغې پرېکړې پر ضد ؛ د ښار په ګڼه ګوڼو ځایونو کې **ښځو او نارینه وو یو د بل په مخ او خوله مچولو** سره پراخ لاریون پیل کړ. د غه لاریونونه په استانبول، انقره، ازمیر او ۶۰ نورو سترو ښارونو کې وشول.

افغانان وایي:
انقلاب په (( توره )) پیل کېږي،
خو ترکانو ته (( مچه )) د بدلون سریزه ده،
•
ترکان وایي:
(( که له ښځې مچه وا نه خلو،

ښځه مینه له لاسه ورکوي،
که ښځه بې مینې شي،
مور ماشوم نه پېدا کوي،
که ماشومان نه وي،
ځوانان زړېږي،
سپینږیري هم - په پای کې - مري،

•

ورو ورو به د مځکې پر مخ هیڅ انسان نه وي. ))



# د مني برگ

د مني برگ ته مې،
ډېرې زارۍ وکړې،
چې:
مه ځه !
تر پسرلي،
د ځانگو تر غوړېدو،
او د گل تر راتلو،
په بڼ کې پاته شه،
خو ده ډارن،
د خزان د باد له وېرې،
منډه واخیسته،
لږ وروسته یې،
تر شا راته وکتل،
ویل:
آشنا !
د خدای په امان

# د مني کړنلاره

لا پسرلی و،
چې د مني باد خپله لوبه پیل کړه،
د مني کړنلاره را ښيي،
چې:
د ونو برګونه به ژړوي،
غواړي،
ګلان وچ کړي،
وابښه وچ کړي،
څانګې بې برګه؛
حتی له ریښو یې وچې کړي،
•
ولې اوس شکر نور،
د منو ترمنځ فاصلې،
اوږدې،
او د پسرلیو فاصلې
لنډېږي.

# د مړو نڅا

مينې غلبه و موندل،
ژور سکوت مات سو،
نور،
د شک او ترديد اور سوړ سوی دی،
يوازېوالی پای ته ورسېد،
ناهيلی ورکه شوه،

•

مړو قبرونه ونړول،
زاړه هډونه بېرته پيوند بړي،
په قبرستان کې انساني لاښونه په نڅا سول،

•

خو حيوانات لا نه پوهېږي څه وکړي،
يوازې د ګوتو په شمېر وږي موږکان،
د مړو زاړه کفنونه ژوېي،
د کنډوالو حشرات هر پلو په منډه دي،

•

د پرون توره او اوږده شپه،
او دغه ننی سباوون....

# د نهنګ مرګ

آیا تاسو دا خبره منئ:
((کله چې د مشر نهنګ نه په دریاب کې لاره ورکه شي، نو په ډېر مهارت خپل پیروان - واړه نهنګان- و هغو اوبو ته لارښوونه کوي چې لږ ژوروالی ولري، تر څو هغوی هلته مړه شي.))
سبا د سمندر ټوله رسنۍ خبر خپروي:

## ((نهنګانو ځان وژنه کړې ده))

خو،
((نهنګ هیڅ کله ځان وژنه، نه کوي،
بلکې:
هغوی د خپلو مشرانو له خوا وژل کیږي))

# د نوي ژوند په لور

باران له ځاځكو سره،
مځكې ته منډه وهي،
څپه له څپو سره،
كروندې ته تښتي،
خو زه،
دغه ټوله،
په پټي كې،
ستا سره،
ستا په غېږ كې،
څارم.

# د ښه والي فکر

زه مين يم،
خو،
پر هغه چا چې تل د ښه کېدو په فکر کې وي.
آيا،
دلته څوک،
د ((عادي والي)) او ((ښه والي)) په توپير پوهېږي؟
زه هر زلمي ته وايم:
تل تر ټولو ښه اوسه!

# د ګل ګناه

نه پوهېږم،
د ګل ګناه څه ده؟
ولې يې:
باد، باران،
خاورې، دوړې او توپان،
هر يو پر سر ور غورځي،
ولې يې پر سد لارويان،
د وژلو او شکولو هڅه کوي؟
•
د سره ګل يوه او يوازنۍ ګنا،
د ده،
(( ښکلا )) او (( پته خوله )) ده.

# رایه به چا ته ورکړو؟

رایه به چا ته ورکړو؟
ها ته چې:
زموږ و ړند ولو ته به ملا نه تړي،
ځکه؛
چې ړوند ولس دنیا نهویني،
ړانده سپوږمۍ نه ویني، لمر نه ویني،
ړانده رڼا نه ویني،
ړوند مجنون هیڅ کله لیلا نه ویني،

ړوند (( پرهاد )) خپله تېشه،
د شیرینې په سر وهي،
تر دې لا بده ده دا،
چې ړانده مور نه ویني !

•

راځه آشنا،
په دې تیاره نړۍ کې،
یو څه رڼا،
یو څه خندا، او یو څه مینه ...



# زما اوښکه

له وختي سهار نه راسره ملګرې وي،
له سترګو مې راووزي،
له جږمو را تېره شي،
پر اننګو مې لاندې باندې سي،
خولې ته مې راشي،
څو څو ځلې مې ښکل کړي،
پر لاسونو خوله راکښېږدي،
تر زنه مې ونيسي
لمنې ته را ښبوه سي،
لمن راته ونيسي،
پښو ته را ولوېږي،
د کار کوټې ته راسره راسي،
د کار په مېز،

په کتاب،
په کاغذ،
په کمپیوټر سر را ښکاره کړي،
ماښام مې هم؛
ماښامنۍ ته نه پرېږدي،
چې بید برېږم بستر ته را وڅکېږي،
سترګو ته مې بیا بیا ګوري چې کله به بیده شم،
د وروستي ځل لپاره مې په اننګو ښکل کړي،
په داسې حال کې،
چې زیاته سړې سوې وي،
بای، بای راته ووایي،
او راسره بیده شي.

# څوک ده زما لیلا؟

مینه ده،
رڼا ده،
خوږه ده،
پسته ده،
سکروټه ده، تودوخه ده، اور دی،
د ګلانو په دنبته کې د عسلو د مچیو کور دی.

# زما دې ژړا خوښه ده

ستا خندا ښکلې ده،
خو !
زما دې ژړا خوښه ده،
دا ځکه:
خاندې نورو ته،
ژړادې ما ته ده،
شاعر وايي:
د ښکلو ژړا په پټه خنداده.

# زما کندهاره!

نه پوهېږم:
د کوم نسل؟
د کوم زوی؟
او کومې لور؟
نیکمرغې سترګې به تا آزاد، آباد او آرام ووینې.
نه پوهېږم:
ستا زخمي بدن به،
په کوم کال، کومه میاشت او کومه ورځ رغېږي؟
•
ای زړه، ای سترګو، ای زما بې سوچه مغزو!
آیا دغه آرمان به رشتیا شي؟
خو زه،
نه پوهېږم،
هیڅ نه پوهېږم!!!

# زما کیسه

زما کیسه ډېره ساده ده،
ته ولاړې،
زه دې پرېښودم،
اوس زه،
یوازې،
د شاعرانو او کیسه لیکونکو،
د غزلو، کیسو، او داستانو،
په لنډو او اوږدو کوڅو کې،
لیونی او سرګردانه در پسې ګرځم،
((غزل)) لیکم،
((کیسه)) لیکم،
((رمان)) لیکم.

# زما مینه او ستا ښکلا

آسمان له خپلو ستورو،
مځکه له خپلو بېلو، بېلو لارو،
او
سمندر له خپلو ټولو توپاني څپو سره،
ښکلی دی،
ډېر ښکلی دی؛
ځکه هغوی،
زما مینه ستا له ښکلا سره پیوند وي.

# زموږ ولسمشر

د ولسمشرۍ د ټاکلو په وخت کې زیاتره خلک غواړي
وپوهېږي،
زموږ ولسمشر باید څرنګه شخص وي؟
زه او د خدای یو بل بنده،
په دې خبره همږغي یو چې:
زموږ ولسمشر باید تر هر څه لومړی یو تکړه،
روح پېژنونکی او د عقلي ناروغیو یو پوخ طبیب وي،
تر څو زموږ د افرادو مغزي تشویش او
روحي تکلیفونه علاج کړي.
آیا تاسو هم همداسې فکر کوئ؟

# زه د سیند له کبانو پوښتم؟

زه د سیند له کبانو پوښتم؟
کله چې د ساحل د ماهیګیرانو په تور کې بند شئ،
کله چې مو څو څو ځلې له مځکې و ولي،
کله چې مو نس او پوست د پخولو لپاره پاک و توږي،
کله چې مو د غوړو پر کړایي: څو، څو ځلې لاندې- باندې
بریان کړي،
تر دې ټولو وروسته،
له خپلو ښکاریانو،
له خپلو راتلونک خوړونکو سره،
د دستر خوان په سر،
د روغې جوړې خبرې اترې به،
ستاسو په ګټه وي که تاوان؟

# زه هغه گل یم

زه هغه گل یم،
چې یوه بې پروا ماشوم،
د ویالې څپو ته غور ځولی وی،
د اوبو تند جریان یې:
بېله ارادې،
یوې نامعلومې خواته بیایي،
سر یې له شګو او کاڼو سره جنګوی،
د ګرداب پیچومی یې پر پر کوی،
او د هیلیو بېړونګه مشوکې یې،
د نابودۍ پایاب ته لاهو کوی،
بیا هم دا زه یم او دا زما هیله:
وی به!
چې یو نیک تصادف مې،
ستا لاس ته واچوي.

# زه هیڅ داسې دلیل نه وینم

په تیاره کوڅو او نامالومه لیارو کې،
له شیطاني وسوسو،
او د وروستی زمانې له ډېرو ننښو نښانو
له را څرګندېدو سره سره،
زه هیڅ داسې دلیل نه وینم:
چې نور به د کلي پر آسمان غوړ لمر را و نه خېژي،
چې نور به سپوږمۍ له لمره نور وانه خلي،
چې نور به سهارنۍ رڼا،
د شپې د تیارې کمبله ټوله نه کړي.

# زه څوک یم؟

زه څوک يم؟
له خوارۍ او بې وسۍ نه،
يو زېرېدلی انسان،
په غلامۍ کې لوی شوی،
يو اسکيرلی بشر،
د ځګرو له خونړ يو ځحنو نه،
يو تښتېدلی روح،

•

يوازې او يوازې،
کاشکې په دې نه پوهېدای چې:
زه يو:
زېږېدلی، اسکیرلی او تښتېدلی يم.

# ډاډه نه یم

هر سهار چې سترګې روڼې کړم،
فکر کوم،
له نوي سره نږې ته راغلی یم،
یو ځل بیا ځان له سره ماشوم احساسوم.
غواړم:
ټوله مهرباني،
ټوله مینه،
او ټوله دوستي شم.
ځکه،
ډاډه نه یم،
چې سبا به دلته یم او که نه؟

# زه یې لیکم ته یې وایه

ستا مخ ته زه قرآن لولم
ته یې اوره؛
زه یې وایم،
ستا په ناز،
غزل لیکمه،
زه یې لیکم ته یې وایه!
ستا د ښکلي مخ انځور دې،
زه یې کاږم،
ته یې ستایه

# زوړ سوم خو ژوندی یم

زوړ سوم،
خو ژوندی یم،
ژوندی تل بریالی وي،

•

ډېر مزلونه مې و وهل،
په ډېرو ځنګلو کې وګرځېدم،
ډېر خرسان مې ولیدل،
د ډېرو زمرو سره مې ډغرې ووهلې،
ډېرو سپیو راته وغپل،

د ږېرو چغالانو کړونچې مې واورېد ،

•

خو !

د بدن:

په هر رګ،

د غوښو په هر سلول،

د سترګو په هره اوښکه،

د وینو په هر څاڅکي کښې مې،

د (( جګړې )) څخه نفرت او له (( سولې )) سره مینه،

کوږ ته راوړل.



# زړه د مینې سمبول

پخوا له دي چې:
انسان عصري شي،
موږ په ښکار ژوند کاوه،
لومړنی ښکار،
هغه (( زړه )) و چې په (( غشي )) یې و ویشتئ،
لومړنۍ (( وینې )) چې توی سوې،
د زخمي زړه وینې وې،
او س هم:
(( سور زړګی )) او په هغه کې ننښتې غشې،
د مینې سمبول دی.

# زړه د امپراتورۍ پلازمېنه

ستا خندا نه وه،
بلا وه،
دا لکه یوه نازنینه شاهزاده ګۍ،
په ډېر چل،
را باندې یرغل وکړ،
د پوست سلول سلول یې را سورې کړ،
د بدن تر رګ رګ را تېره شوه،
تر څو د زړه سر یې را نه ونیوی،

•

اوس د ډیلي دغه تخت،
یوازې او یوازې،
د دې د امپراتورۍ پلازمېنه ده.

# ژوند! ژوند! ژوند!

نن سهار مې:
سيندونو ته چې روان دي،
بادونو ته چې چلېږي،
لمر ته چې ځلېږي
او تودوخه راکوي،
وويل: سلام!
سيندونو، بادونو او لمر په يوه سلا جواب راکړ:
ژوند! ژوند! ژوند!

# ستا په اننګو کې

ستا ،
په اننګو کې:
لکه اوښکه رڼوالۍ، لکه ګل تازه ګي،
دواړه، یو ځای، غبرګ، څه مانا لري؟
شاعر وایي: ((ښکلا))
نه! نه!
یوازې ((ښکلا))
دغه حالت نه شي ښودلای.

# ستا غېږې ته منډه

په پسرلی کې،
په تازه هوا کې،
پور ته؛
په آسمان کې،
ځاځکی له ځاځکو سره یو ځای شي،
اوریځې شي،
اوریځې د غره لمنې ته راښکوه سي،
تالنده سي،
باران وسي،
توپان راسي،
له باران او توپان نه هر څوک منډه کوي،
څوک یو پلو، څوک بل پلو،
خو زما منډه تل ستا ((غېږې)) ته وي.

# ستا مینه

ستا مینه،
د یو لوی ساحر،
د یوې سترې جادوګرې په توګه،
زما په بدن اغېزه کړې ده،
وینو او رګ ته را ننوتې ده،
لکه اور،
لکه سرب،
زما بدن سوزي،
زما روح په نڅا راولي،
•
زما په ویښه،
زما په خوب،
او زما په خیال کې،
اوس،
یوازې ته یې او ستا مینه.

# ستا ښکلا

ستا ښکلا،
له ((نیستۍ)) نه ((هستي)) منځ ته راوړل،
یوه خالي پانه یې ډکه کړل.
بېځایه نه ده،
چې ((هستي)) ستا د ښکلا احسان کوي.
•
ډار یږم؛
چې د هغې زوال به،
ټوله ((هستي)) نېست کړي.

# ستومانه لمر

لمر،
هر سهار،
ستاسو د کور او خونې کړکۍ ټکوي،
ځکه ټوله شپه،
په توره تیاره کې،
ستړې ستومانه،
اوږدې لارې وهي،
تر څو ځان زموږ کلي ته را ورسوي،
هېر مو نه سي چې کړکۍ پرانستې پرېږدئ !
او هر کلی یې وکړئ !

# سترې مه شې!

## مننه!

په بڼ کې غونچې تکان و خوړ،
نوی ((ګل)) نرۍ ته سترګې رڼوې کړې،
((ګلک)) د پر ښکلی و،
لومړی څوک چې ږغ یې پرو کړ اغزی و:
- سترې مشې!
((ګلک)) په خوله، برګ برګ اغزي ته وکتل او ښه یې شو،

•

وروسته،
کله چې ګل تنکی زلمی سو،
په لاره د یوه ماشوم سترګې پر و لګېدې،
ورمنډه یې کړل؛ و یې شکوی،
اغزي یې په تلوار لاس و واهه،
ماشوم په ژړا کور ته منډه کړه،
ګل هم په درنښت اغزي ته و ویل:
- مننه!

# سر پنا

پرون زما ګاونډی،
د خپلې ښکلې مېرمنې،
د خپلې پېغلتې لورکۍ،
له خپلو دوو، لکه د واورې غتې بچیانو سره،
له کلونو کلونو بېځایې نه وروسته،
په وېره وېره،
خو، ژوره هیله،
کلي ته راستون سو.

•

دی نه غواړي،
د کلي ملک سي،
باغونه او پټې رانیسي،
منزل پر منزل آباد کړي،
دی غواړي،
د خپلې نړېدلې کوټې پر سر،
څه لرګي او خاشې واچوي،
څو یوه سرپنا شي.

# سر خپل ګرېوانه ته کښته کول

آیا،
ژمی د تودوخې او یخنۍ تر منځ،
بې طرفه کېدای شي؟
آیا کلیوال د توپونو د ډزو او د ډهل د نغمې تر منځ،
توپیر نه سي کولای؟
آیا مرغۍ د قفس سیمان؛ په ونه کې د ځانګو له ښاخلو سره،
یو ډول ګڼي؟
آیا د شرابو د جام او د خیرات د لرو،
مزه یوه ده؟
راسئ!
سر خپل ګرېوانه ته کښته کړو.

# سرگردانه زرې

په هوا کې ملیونونه زرې،
سرگردانه؛
یو له بل سره په ټکر کې وې،
وروسته، دوی د خپلې آرامتیا په فکر کې سولې،
ټولو و ویل:
نور به یو له بل سره ټکر نه کوو،
باید یو بل په غېږ کې ونیسو!
ژر د زرو په یو ځای سوې ریښه کې،
ژوند ننوت،
واښه، گلان، ونې او مېوې پیدا سوې،
چونگوښه، کوتره او طوطي مخ ته راغلل،
او.. بیا انسان را و زېږیدی،
خو،
هر څه د همدغو سرگردانه زرو له پیونده.

# سهار وختي

لمر چې،
کوم سهار،
زموږ کور ته،
څو مره:
وختي، روښانه او ځلانده راسي،
زه،
د خپلې کوټې،
خورا وړې، وړې زرې،
ډېر روښانه، روښانه وینم.

# د سولې لپاره جګړه

دلته،
هر څه له سولې نه پيل شي،
د سولې لپاره را غونډ شي،
د سولې لپاره هڅې و شي،
پر سوله خبرې و شي،
بيا،
د سولې لپاره يو پر بل و غړمبېږي،
او د سولې لپاره،
يو له بل سره جګړه پيل شي.

# شیطان را نه غواړي

شیطان را نه غواړي،
په خوله یې وکړم،
او وایم:
تاریکي ښه ده،
نور لمر نه را خېژي،
ګلان بې بویه سوي دي،
پسرلي خپل راتګ بس کړ،
آسمان به نور و نه اوربږي،
ښکلي بې وفا سول،
مینه نوره مانا نه لري،
د نړۍ پای رانزدې دی،

یو ازې د ځانمرګي و اسکټ جنت ته لاره لنډوي.

•

خو زه،
ستا د غېږې ګرمي نه سم هېرولای،
د یتیم اوښکې باید یو څوک پاکې کړي،
سپوږمۍ د نور له پاره لمر ته اړه ده،
ستو ري هم څوک غواړي؛ تر څو د چشمکونو ننداره یې وکړي،
د مځکې په ګېډه کې د اوبو ستره زخیره سته،
او
پر راتلونکي سمسور تیا ایمان لرم.



# غواړم د باران په اندازه و ژاړم

ما له یوې غټې کړکۍ نه خپل خلک و لیدل،
ما هر څه آزاد ورته وویل،
خو، د زمانې په ژبه مې هیڅ څه ځینې وا نه وریدل.

•

د دوی په سترګو کې د مینې کاته نه و،
دوی یو بل ته په مینه نه کتل،
هیڅ یو د بل په لیدو نه خوښېدې.

•

غواړم د باران په اندازه و ژاړم،
غواړم په زوره شغې کړم:

عالمه مینه مینه نه ستـه
سودا ګري ده یو پر بل یې خرڅوینه.

# کاشکې

که زه،
که ته،
لکه اوبه، لکه ویاله،
تل تازه شو او بهیږو،
هیڅ خس او خاشاک به مو خنډ نه شي،
زلزله، توپان، تالنده مو مخه نه نیسي
غرونه لاره راکوي،
چینې مو لاره څاري،
•
آیا ویاله په بهیدو سترې کیږي؟
نه! هیڅکله،
کاشکې زه اوبه وای، ته ویاله،
زه دریاب، ته سمندر.

# کاشکې تل راسره مل وای!

سپینږرتوب،
عاجزي،
یوازې والی دئ،
تبه، لړزه، سستي ده،
د بدن استقامت مې،
ناروغي فتحه کوي،
خو روح مې،
یوازې او یوازې ستا مینه فتح کولای شي.
کاشکې تل راسره مل وای!

# کاشکې نړۍ په مینه ودانه کړو

زه هغه ږغ،
چې باد یې د ګل په غوږ کې کوي،
پوره اورم،
ستا لوخ بدن تر هندارې،
شپاپ وینم،
د ښکلې سینې اندازه دې؛ د درزي تر یاد ښت،
ښه پېژنم،
مینه زړه ته هرڅه ښیي،
کاشکې،
نړۍ پر مینه ودانه کړو !

# کندهاره!

وايي:
((ګل د هر چا خوښ دی
خو بلبل ايمان پر را وړی دی))
کندهاره!
زما تاتوبی!
زما مينې!
که ووايم: مينه دې زما په وينو کې جاري ده،
دا سمه نه ده،
ځکه هغه مې د بدن په هره زره کې شته،
وايم: مينه مې ستا سره ستا د انارو د دانو په اندازه ده،
دا سمه نه ده،
ځکه؟
انار شمېر او اندازه لري،
که ووايم: مينه مې ستا سره ستا د ښکلو او ښايستو په شمېر ده،

دا سمه نه ده،
دا شمېر به هم تر ملیون زیات نه وي،
که ووایم: مینه مې ستا سره د پسرلي د باران د څاڅکو په اندازه ده،
دا سمه نه ده،
ځکه څاڅکي بې اندازې نه دي،

•

که ووایم: ته ستا د ورانیو او
خرابیو په اندازه راته ګران یې،
دا بېخي سمه ده،
دا خرابي حد او اندازه نه لري،
ستا له دښمنانو سره مې کرکه،
د هغه چپاول په اندازه ده چې ته یې چپاول کړې یې،
دا سمه ده،
ځکه هغه هم حد نه لري،

•

خو ډاډه یم چې ستا بچي به تا ودانوي،
دا ومنه!
دا پښتو ده،
ستا سره د هغوی مینه حد او اندازه نه پېژني.

# که ادې مړه سوه

ښکلې مینه نه راسره کوي،
بابا مړ شو،
ادې بوډا ده،
آه! لویه خدایه،
که ادې هم مړه شوه،
څه به کوم.

# که زه قلم وای

که ته اور یخ وای،
تا به څه کول؟
- پر مځکه مې باران کوی،
- نور:
- لمر ته مې لاره ورکول،
نو،
که زه قلم وای،
ما هم در ته لیکل:
(( آفرین ))
(( شا باس ))
(( ویلډن ))
(( ملدخ ))

# زما خوب

هره شپه،
خوب وینم،
چې د آزادۍ لمر را ختلی دی،
د کبر، تاریکۍ او چپاول،
کنګل سوي فرعونان،
یو په بل پسې،
ژر ژر ویلې او پر مځکه نسکوره شي.
خو، سهار ګورم:
داسې نه وي،
آیا:
بل هر څوک دا سې خوب وینې؟
رشتیا هم نه!

# که شیطان خبر وای

لکه چې:
شیطان هم نور زوړ او تقاعد ته نژدې سوی وي
لکه چې:
غواړي کار و بار خپل کشر زوی ته وسپاري،
فکر کوم:
نوره یې دنده هم نسته،
ځکه:
هغه بند چې دی یې په توره شپه تړي،
نور یې په رڼا ورځ سر ته رسوي،

•

پرون یوه ځوان شیطان په خندا راته وویل:
که زموږ ستر نیکه،
ښاغلی ((لعین)) په دې پوهېدای چې:
ستاسو په هېواد کې د زورورو، درواغ، ټګي او چل دومره مخته ځي،
لومړی ورځ به یې لا ((آدم)) ته سجده کړې وای.

# که لمر را نه سي

لمر،
بلې !
دا لمر دی چې زموږ له پاره
سپوږمۍ ته رڼا ورکوي،
هر سهار:
زموږ مځکې ته تشريف راوړي،
زموږ کلي ته راځي،
زموږ په کور کې مېلمه کېږي،
زموږ خونه رڼا کوي،
زموږ زړونه تودوي،
آيا کېداسي چې لمر نه وي؟
•
که لمر را نه شي،
که لمر و نه ځلېږي،
موږ به په دې بې پايه توره تياره کې څه کوو ؟

# که لمر زموږ کلیوال شي!

غوارم،
باد شم،
والوزم،
تر وریځو برسېره شم،
غوارم هلته وګورم چې:
لمر،
څومره ښکلی دی؟
څومره تود وخې لري؟
څنګه نړۍ رڼا کوي؟
غوارم مخامخ،
د لمر،
سره وږغېږم،

او ترې نه وغواړم:
چې:
وعده راکړه !
پښتو راسره وکړه !
کله چې مځکې ته راشې،
زموږ تاتوبی به نه هېروې !
زموږ د کلي مېوې دانې به پخوې،
او زموږ په کور کې به مېلمه کېږې،

•

څه به وشي،
که لمر،
زما خبره ومني،
او بېخي زموږ کلیوال شي.

# کږه نړۍ

کله،
نړۍ کږه وي،
کله یې موږ کږه وینو ،
کله چې کوټه تړلې او وربند وي،
موږ کوټه نړوو ،
او یا بهر پاتېږو ،
بلې !
ما به تل کوټه نړول، یا به بهر پاتېدم،
ما بندې کوټې ته کلنګ درلود ،
خو کیلې مې نه موندل.

# لاس راکړه!
# پښتو وکړه!

ته خو په دې غره کې ګرزېدلی یې،
تا د دې دښت ګلونه بوی کړي دي،
ته د دې کلي د ښکلو نجونو د اننګو اور سوځلی یې،
ستا پلار دلته غېږ ایستلې ده،
ستا مور دلته ښخه ده،

•

نو قسم واخله!
لاس راکړه!
پښتو راسره وکړه!
چې نور به دغه وطن نه ورانوې!

## ((ښکلا)) او ((ښکلول))

زه چې کله ښکلی ګل ته ګورم،
له مرګ نه یې نه ډارېږم،
چې څوک به یې پرې کړي،
له بې ناموسۍ ډارېږم چې څوک به یې ښکل کړي،
ځکه ما ته،
(( ښکلا )) او (( ښکلول ))،
له یوې ریښې ښکاري.

# له دنیا نه لاس اخیستل

ژوند کار دی،
ګذاره ده،
معامله ده،
ځوک ځي،
څوک راځي،
په نړۍ کې خلک:
(( څه له لاسه ورکوي ))
(( له څه نه لاس اخلي ))
خو یوازې زه،
د خدای اسکیرلی بنده،
(( دنیا )) له لاسه ورکوم
او (( له دنیا نه )) لاس اخلم.

# له لمر نه مننه

له ډېرو تورو وريځو سره سره ،
بيا هم آسمان،
ډېر تياره نه سو ،
- موږ يو او بل سم سره ليدل-
دلته دی،
چې بايد ،
يو ځل بيا ،
له لمر نه،
مننه وکړو.

# مات زړه

زما زړه خو تل ستا د مخ هنداره وه،
نه پوهېږم،
د هغه په ماتولو کې دې،
څه ګټه وکړه؟

# مه ژاړه!
# وخانده!

ژړا دې د مني باد دی:
شنه بوټي وچوي،
وچ برګونه رژوي،
ژمی را ولي،
سړې ورځې را پيادوي،

•

زه دې خندا غواړم:
پسرلی به راولې،
دښتې به شنې سي،
ګلونه به وغوړېږي،
لمر به مو هډونه تاوده کړي،
نو:
مه ژاړه !
وخانده !

# ابدي مينه

ستا د دیدار په هیله،
زما په اننګو
روانو اوښکو،
ستا په شونډانو،
زما د خیالي مچکې آواز،
د بېلتانه د شپې،
زړه خوږوونکې زګېروې،
زما او ستا مينه ابدي کړې ده.

# مینه په تلو راتلو ډېرېږي

په ټوکه ټوکه مې ورته وویل چې راسه یوه یا دوې ورځې یو بل
سره و نه وینو،
ده هم په ټوکه راسره و منل،
خو، اوس په کلونو، کلونو یو بل نه سره وینو،
او یا له سره را یاد نه دي چې کله مو وروستي ځل سره لیدلي
دي؟
ایله نن سبا په دې و پوهېدم چې،
په مینه کې ټوکه روا نه ده:
مینه په تلو راتلو ډېرېږي
کله راځه، کله به زه درځم مَینه

# مینه څه ده؟

مینه څه ده؟
یو بې تورو مکتوب،
بې لاسلیکه تړون،
د اوبو پر جریان،
لیکل سوی قانون،
له زمانه آزاد،
له مکانه بهر،
د انځور په وزر،
په هوا کې ژوندون.

# نه پوهېږم ولې؟

نه پوهېږم ولې؟
د دې کور ټولې کړکۍ بې نوره،
ګرده هوا تیاره،
او هره خونه سړه ده.

•

نه پوهېږم ولې؟
رڼا زموږ د کاله نه تښتي
او تیاره پناه راکوي،
نور اورونه زموږ نغري نه تودوي
او باران هم کروندې نه خړوبوي.

•

زه یې کله د خدای رضا ګڼم
او کله د شیطان چل،
خو دا هیڅ نه منم چې د دواړو دې سلا یوه وي،

•

یوازې دومره پوهېږم،
چې نور دلته ژوند د آزادۍ مقدمه نه ده.

# نه، امکان نه لري

آیا د مرګ له وېرې
تسلیم شم؟
د پیسو لپاره ځان
خرڅ کړم؟
د بل مریی سم؟
د کوترې یا آس په توګه
ځان بې ژبې کړم؟
د لاښ غوندې،
له انسان نه پرته،
د بل هر څه غوندې،
ځان د بل په لاس ور کړم؟
تر خپل ((انسان والي)) تېر شم،
هغه ((انسان والی)) چې یوازې
تر مرګ وروست له منځه ځي؟
نه، دا امکان نه لري

# نېکي

د یوه زلمي شاعر نه مې و پوښتل:
د پارسي شاعرۍ د پرورد ګار سعدي د دغه بیت مانا څه ده؟
((تو نیکی میکن و در دجله انداز
که ایزد در بیابانت دهد باز))
ویل:
- نېکي پښې لري،
- پر لارې ځي،
- او بېرته تاسو ته راستونېږي.

# هر څه بدل شول

تا،
ستا مینې،
ستا ښکلا،
هر څه بدل کړل،
نور:
دا سباوون نه ځي،
بیا:
توره شپه نه راځي،
اوس:
مې زړه وېره نه پېژني،

# هلو!

را نه و یې پوښتل،
کوم شیان دې ډېر خوښېږي؟
ور ته و مې لیکل:

ستا د ښکلو سترګو کږه کتنه،
د ګل پر مخ د پروانه د ناز مچه،
د واده د شپې ((آهسته برو))
د شاعر لومړنی شعر،
پر بندي د آزادۍ ږغ،
او تر ټولو لا:
په تلفون کې ستا،
هلو !

# والشمس و ضحا ها

(( والشمس و ضحاها،
والقمر اذا تلا ها ))
چې نور به:
آسمان د تل لپاره شین وي،
دوړې به د کروندګرو مخ نه سپېره کوي،
اغزي به له ګل سره ویدېږي،
زمري به وری زېږوي،
پیشو به د موږک خور وي،
پسه به شرمښانو ته لاره ښیي،
ځانمرګی به و جنت ته د رسېدو لنډه لار نه وي،
او:
رهبران به نور ولسونه په جنګ نه اچوي.

•

بېله شکه،
لوی خدای د هر څه توان لري.

# کله ډېر ناوخته شي

وایي:
((کله ډېر ناوخته شي))
دا یوازې د حقیقت یو پیکه تصویر دی،
څو،
زموږ تنبلي او عیب پټ کړي،
رښتیا داده:
هر کله او هر چېرته،
موږ پخپله ناوخته کوو.

# وطن

ټول ښار کنګل نیولی و،
مسافر په دغو سړو کې بې هدفه دورې، هورې خوځېدې،
د خپل کلي او ښکلې مینې په هکله فکر وړي و؛
ناڅاپه،
د خیال په څپو کې خپله مینه په غېږ کې ور ولیدل،
اوهو، اوه!
ده ته دغه توده غېږه ((وطن)) و.

# وطن جنت دی

هر سهار،
د لمر وړانګې،
د خوشبویه ګلانو له وږمو،
د سباوون د تازه هوا له څپو سره،
له وړو، وړو کړکیو نه،
ورو ورو،
زما کوټې ته راننوزي،
لاندې باندې شي،
د عطرونو یوه سره او زرغونه نړۍ جوړه کړي،

•

هر سهار زه د سر په سترګو وینم،
چې:
جنت حق دی،
او وطن جنت دی.

# وینې زبېښونکی

ماشی،
په خورا وحشت د ګلالي ماشوم پر اننګو خوله ولګول،
د هغه وینه یې و زبېښل،
پروانه،
په ډېره نرمۍ خپل ښکلي وزرونه د ګلاب پر مخ غوړولي و،
د هغه وینه یې زبېښل،
راشئ ملګرو !
پښتو و کړو !
چې،
هیڅکله،
او هیڅ چېرته،
به و وینو زبېښونکو ته،
لاس نه پړکوو.

# تکړه ځوانان

یوه زلمي خپل یو پخوانی خدای بخښلی سیاسي مشر په خوب ولیدی،
تر روغبړ وروسته یې ترې وپوښتل:
ستاسو په وختونو کې به ځوانو د سیاست سره ډېره مینه لرل،
د دې راز څه و؟
مشر په یوه رېږدېدلي خو مهربانه آواز ورته وویل:
موږ به لومړی په ټولنه کې تکړه ځوانان په ګوته او را غونډ ول،
بیا به مو د هغوی:
- په بدن کې تازه روح ور پو کوی،
- په رګونو کې توده وینه ور جاري کول،
- په زړونو کې به مو ګرمي او مینه ور اچول.
خو زلمی د ده په موخه و نه پوهېدی،
چې د دغو درو سره خبرو مانا،
و ژوند او آبادۍ ته د زلمیانو هڅول دي.

# ((جزغاله))

انسان: ښځه، ماشوم، شاعر، مین،
حیوان: مېږي، پشی، وزګړی،
مېوې: انار، ختکی، منه،
همداسې:
بایسکل، موټر، ګاډی،
ټول د خدای ډول ډول مخلوقات دي،
په خلقت کې؛
د هر یوه پیدایښت بېل هدف لري،
په څېره کې؛
یو له بل سره ډېر ډېر توپیر لري،
•
خو کله چې زموږ یو پر جنت مین زلمی
په لیاره کې ځانمرګی واسکټ وچوي،
ټول دغه مخلوقات د الاه په یکې یوه مخلوق بدل شي،
چې نوم یې دی:
((جزغاله))

# څاڅکی

د څاڅکي ستر عیب دادی چې:
ځان نه پېژني،
ځان ته په سپکه سترګه ګوري،
ځان وړوکی ور ته ښکاري،

•

څاڅکي نه دي اورېدلي چې:
((له څاڅکو نه سمندر جوړېږي))

# څه کېدل

څه کېدل،
چې د پسرلي په سهار مې،
د بورا په څېر،
ستا په ګلو شمه اننګو،
او
خندانو شونډو،
خپل نازک وزرونه رپولای، رپولای،
کاشکې داسې وای،
خو، نه دی!

# ډېره له ډېرې وهل

ډېره به ښه وی،
چې په توره شپه کې،
کله چې ډېر ساړه وي،
یو او بل په غېږ کې و نیسو،
ځان له یخنۍ وساتو،
کله هم د تودوخې لپاره،
کاڼي له کاڼي و وهو،
چې بڅرکي پیدا شي،
اور بل کړو،
بیا یو د بل لاسونه ونیسو،
او د لمبو پر شاوخوا نږدې سره راټول شو.

# ډارن ملګری

د پر کلو نه کېږي،
ښه مې را یاد نه دي،
چې کله و؟
او څرنګه و؟
تالنده سوه،
باران سو،
توپان راغلی،
د قهر څپو را ګردې کړ،
غرق یې کړ،
سره و یې مرورې،
بیا تر ډېره یې بې روحه لاښ و لاړو او بو پر سر ګرځاوه،
هېر مې دی چې بیا کله،
د سند تل تهنشین کړ؟

**رشید ((ارین)) ته د نیمې**
**پېړۍ یارانې په ویاړ**

# احسن تقویم

انسان په رښتیا یا ناحقه، تل په دې ګمان ژوند کوي، چې ګواکې په کایناتو او مخلوقاتو کې تر ټولو لوړ او ښکلی موجود دی.
د قرآن په خبره خدای انسان په (( احسن تقویم )) پیدا کړی دی او دی په خپل دغه خلقت دومره ویاړي چې ځان (( احسن الخالقین )) ستایي.
د (( تقویم )) یوه مانا (( قواره ))، (( څېره )) او (( بڼه )) ده. له بل پلوه (( تقویم )) په انسان کې د بېلو بېلو ډېرو ښو روحي او بدني خصلتونو ترکیب دی.
خو (( احسن الخالقین )) هم د (( رب العالمین )) په توګه یوازې انسان ښکلی نه دی پیدا کړی، بلکه د طبیعت هر بل عنصر ته یې هم لږ تر لږه یوه او یا څو ښېګنې ور کړې دي.
زه د ژوند په اوږدو کې له داسې کسانو سره هم مخامخ سوی یم چې خارق العاده لوړ صفتونه لري او کله نا که مې قصد هم په کېږي زما په اند دغو انسانانو د طبیعت د نورو مخلوقاتو نه ځینې خصلتونه پور کړي دي، د بېلګې په توګه:

- له دریاب نه ژور والی، له لمر نه رڼا، له سپوږمۍ نه ارمانجن توب، له ستورو نه ځلا، له آسمان نه سرلوړي، له غره نه غرور،
- له اوسپنې نه کلکوالی، له اور نه تود والی له باد نه سرکښي، له خاورې نه تواضع، له سهار نه برکت،
- له زمري نه زړورتیا، له عقاب نه بلند پروازي، د مېږي نه دور اندیشي،
- له ګل نه خاموشي، له غنچې نه تازه ګي، له بلبل نه مینه، له بورا نه ځان ښندنه،
- له اوبو نه پاکي، له عسلو نه خوږوالی، له شرابو نه مستي،
- له کتاب نه آشنايي، له هنداري نه ربنتیا ویل،

او په پای کې:

له پخوا نه تجربه او راتلونکې ته امیدواري.

د داسې کسانو له پاره د ((احسن تقویم)) مانا یوازې او یوازې ((انسانی ستر توب)) دی.



# ژباړل شوي
# شعرونه

پابلو نرودا
له انګلیسي نه

# ایا ته پخپله ورو ورو ځان مرګ ته بیایې؟

که سفر نه کوې،
که کتاب نه لولې،
که د ژوند آواز ته غوږ نه نیسې،
که د خپل ځان قدر نه کوې،

•

که په ځان کې پر ځان د باور احساس و وژنې.
که له نورو خلکو نه کار وانه خستلای سې،

•

که د خپلو عادتونو مریي شې،
که تل پر یوه تکراره لار ځې،
که د رنګارنګ شیانو د لیدو طاقت و نه لرې،
که له پردیو سره خبرو ته حاضر نه شې،

•

که له شور او تود والي نه،
که له خپلو سرکښو احساساتو نه،

که له هغه څه نه چې سترګې دې په روښانه وي، یا دې د زړه ضربان در چټکوي ځان لیرې وساتې،

•

که دې خپل نا خوښ کسب بدل نه کړای شې،
که دې حتی خپله مینه خوښه نه وي، بدله یې نه کړای شې،
د خپلو محدودو سوچونو تر چوکاټ و نه وتلای شې،
که په ژوند کې یو ځل هم تر خپلو ګټو تېر نه شې،

•

نن ژوند له سره پیل کړه،
نور له خطره مه ډارېږه،
نن بېخي یو نوی کار پیل کړه،
په ژوند تل خوشاله اوسه،
مه پرېږده چې مرګ درته راسي.
په هر څه چې نه پوهېږې زده یې کړه،

•

نو هله به مرګ درنه و ډارېږي
ژوند به هله په ډاډ درته رامنډه کړي.

**ويکتور هوګو**
**له انګليسي نه**

# خدای دې مین کړه

خدای دې مین کړه،
که مین یې خدای دې مراد ته ورسوه،
که دې مراد تر سره شوی نه وي؛ بېلتون دې لنډ شه،
که په بېلتون کې یې ناهیله مه شې،

•

هیله کوم ښه دوستان ولرې،
که دې دوستان بد او یا د نیمې لارې ملګري وي،
لږ تر لږه په یوه یا دوو باور ولره،
څرنګه چې ژوند بې دښمنه نه وي،
نو د ښمنان دې لږ شه،
یا په اندازه،

•

هیله ده ډېر کټور څوک واوسې،
او بېخي نا سولټه هم ونه اوسې،
تر څو په ډېرو سختو ګړیو کې،

هله چې هیڅ پلو دې مخ نه ګرځي،
یوازې دې هم دغه ګټور توب و ساتي.

•

حوصله و لره،
یوازې هغه کسانو ته چې وړې تېروتنې کوي نه،
بلکې هغه کسانو ته هم چې سترې او جبران نه کېدونکې خطاوې یې کړي وي،
د حوصلې په کار کې نورو ته نمونه شه،

•

که ځوان یې خدای دې مه زړوه،
که زوړ یې نا هیلې کېږه مه،
ځکه:
هر سن خپلې ښېګڼې او بدګڼې لري،
پر بېږده دواړه سنونه پخپله تجربه کړو،

•

هیله سپیو ته مړی ورکړې،
مرغیو ته دانه واچوې،
د یوې سایرې آواز ته غوږ ونیسې،
کله چې سهار ریز کوي،

•

هیله ده په مځکه کې زړي و پاشې،

که څه هم يو ازې څو دانې وي،
تر څو د نيالګيو ستر يدل يې پخپله وګورې،
او و وينې يوه ونه څومره عمر کوي،

•

خدای دې د برې روپۍ درکړي،
ځکه پيسو ته هرڅوک اړ دی،
تر څو هر کال يې بر يوه ميز باندې کښيږدي،
او و وايې دا زما پيسې دي،
ته دا هم بايد زده کړې؛ چې ته د پيسو يې که هغوی ستا دي؟

•

که دغه ټول چې مې در ته و ويل ولرې،
نور نو هيڅ دا سې څه نه لرم چې له خدايه يې در ته و غواړم.

# د بایرن وصیت

**د ستر انگلیسي شاعر بایرن ( ۱۷۸۸ – ۱۸۲۴ ) وروستی شعر:**

(( زما جسد د انگلستان،
له نفرت نه ډکې جزیرې ته مه وړئ،
ځکه هلته به مې د وحشت او نفرت نه،
هډوکي و لړزیږي ))

**الکساندر تواردوفسکي**
**( ۱۹۷۱-۱۹۰۱)**

# راز

غنچې ولې خپل وړوکی لاس مټ کړې ولاړه ده،
آیا ډاربږي؟
چې تند باد به یې،
د غوړېدو،
د سبا،
د راتلونکي سور پیغام،
له لاس نه وباسي.

( د ((اسطوره بزرگ شهادت)) له شعري ټولګې نه )



واصف باختري

# سواد

د لاله گل پر برگ لیکل شوي دي:
گل مه شکوئ !
دغه نازولي د مور له غېږې مه اخلئ !
خو افسوس چې باد سواد نه لري.



## فدا محمد ((نظري))

**چاپ شوی اثار:**

۱. ښکلې نومونه او ادبي تخلصونه:
(پښتو ، کندهار ، ۲۰۱۰ کال ، ۳۴۰ مخونه )

۲. The Political and Social
Dictionary of Afghanistan
(انګلیسي ، لندن ، ۲۰۰۷کال ، ۵۰۰ مخونه )

۳. کاشکې لمر زموږ کلیوال وای ، ( دغه ټولګه )

**چاپ ته تیار:**

۱. «ښې نجونې په جنت کې دي ، ښکلې نجونې په کابل کې»
( پښتو ، د آزادو او سپینو شعرونو ټولګه ، ۱۰۰شعرونه )

۲. د آزادو او سپینو شعرونو د ژباړو ټولګه ، ۱۰۰ شعرونه )
(پښتو )

۳. کلیات آثار استاد عبدالرحمن پژواک.
( پارسي ، د استاد ټول دري او پشتو شعرونه ، ۱۵۰۰ مخونه )

**پېژندنه**

نوم: فدا محمد <<نظری>>
د زیږیدو ځای : کند هار ،
د استیدو ځای : کابل /الندن ،

چاپ چارې : د مومند خپرندویې ټولنې تخنیکي څانګه _ جلالکوټ
۰۷۰۰۶۲۶۱۶۱ /۰۰۷۷۷۶۲۶۱۶۱